داکتر محمد اکبر اکبر ۲۰۱۹/۰۲/۲۶

# افغان سوله!

## یو خوب، یو خیال که یو ریښتنی واقعیت؟

که له ځانه وپوښتو چې ښتګه اوس په افغانستان کې سوله شوني ده؟ او که په افغانستان کې سوله شوني ده نو سوله به څنګه کیږي؟ ځکه چې نه طالبان د افغان دولت سره خبرو ته کښيني او نه افغان دولت د طالبانو سره له مخامخ خبرو پرته بل څه ته غاړه ږدي. چې داسې ده نو له راپيښې بوختې نه دوتلو کومه لاره هم لرو او که نه؟ او که لرو يې نو دا لاره کومه ده؟

په دې لړ کې زما په نيمګړې انده يوه لاره شته او هغه لاره داده چې تردې وروسته دې ولس د پيښو نوښتون د دولت او وسله والو مخالفينو، دواړو نه واخلي او ددې په ځای چې په ولس باندې د افغان دولت يا طالبانو پريکړې ور تپل کيږي ولس دې د چارو نوښتون ته په خپله وروړاندې شي.

ولې که چېرته ولس دې ډول نوښتون ته په خپله ور وړاندې کيږي نو داسې وړاندې کېدل به په کومه بڼه وي؟

ددې پوښتنې ځواب په افغان تاريخ کې ولسي ونډې او رول ته تر کتلو وروسته ډېر سوکه دی نه کوم سياسي نبوغ غواړي او نه پيچلي حسابونه.

او هغه داسې چې ولس به دې نوښتون ته د منل شوو تاريخي ارزښتونو او نرخونو سره سم په خپلو دوديزو طريقو همداسې ور وړاندې شي لکه د افغان تاريخ په تيرو بحراني پړاوونو کې چې ورته تل ور وړاندی شوی وو يانې دوديزې تاريخي لارې به غوره کړي او دوديزې لارې يې دادې چې وګورو په افغانستان کې د ټولنيز واک او زواک مرکزونه کوم دي؟

په افغانستان کې که د ټولنيزې ځېرنې هر لاسوندې اوسند وګورئ نو پوهه به شئ چې زمونږه په ټولنه کې (که د هر افغان توکم ټولنه وي) د زواک او واک دوه ستر مرکزونه پايي:

يو مرکز يې کورنی نوميږي او بل دګ او مرکز يې ولسوالي ده.

ځکه چې کورنی په کلو کې راټوليږي او په يوه کلي کې هر څوک د کلي ښه خلک او بد خلک ډير ښه پيژني او بيا همدا کلي دي چې په لويو ملي مسئلو کې د ولسواليو له لارې خپل دريځ او خپله خبره وړاندې کوي.

نو په دې ډول په لومړي پړاو کې به د ټول کلي په جومات يا حجره کې کليوال راغونډيږي، د کلي په کچه به جرګه جوړوي او د جرګې له منځه به د ولسوالی په کچه جوړيدونکې جرګې ته خپل استاځی نومي.

بيا به په دويم پړاو کې د کليو استاځي د ولسوالی په لوی جومات کې راټوليږي د ولسوالی په کچه به يوه ولسي جرګه يا شورا جوړوي او ددې جرګې له غړو نه به د ښه شهرت او په سياسي تقوا سنبال يو استاځی غوره کيږي او بيا به دا استاځی د همدې ولسوالی د نوماندې په توګه هغې لويې ملي جرګې ته ورځي چې د کابل په کوم لوی جومات کې به جوړيږي نه به ددې جرګې



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

په جوړولو کې د دولت ونډه وي او نه به جرګه د دولت وسله وال یا نور سیاسي مخالفین په دې جرګه کې لاسوهني او یا په جرګه باندې اغیز غورزولو ته پرېږدي.
په دې ډول ویلی شو چې همدا کلي او ولسوالۍ دي چې په افغان ټولنه کې د زواک د دوو لویو دګونه او مرکزونو د جوړولو سره به دوه ډوله جرګې جوړې کړي:

الف: کلیوالي جرګې
ب: د ولسوالیو جرګې

ښه به داوي چې ددې دوو جرګو ترجوړولو وروسته ولس په پوره توند لاسی د یوې ملي لویې جرګې د جوړولو په لور په وړاندې وخوځیږي او د ټول افغانستان په کچه یوه لویه ملي جرګه جوړه کړي او د ولسي زواک د ښودلو د پاره بې داسي وکاروي چې له دې دریځونو نه د هرې هغې چارې زغرد ملاتړ ته ور وړاندې شي چې دوی بې د هیواد لوړې ملي ګټې ګڼي او هر هغه څه ونه مني چې دوی بې د افغان ولس او د افغانستان د سولې او یووالي د پاره بد ګڼي. که داسي وشول نو بیا به ولس بیرته د زواک په یو اریز او اصلي دګ بدل شي او هر سیاسي ګوند او ډله ټپله به د دوی تر درشلو ورځي نه دا چې دوی دې د سیاسي ډلو تر درشلو ورشي

## ولسونه چې سند وبله وکا
## بادشاهان ورته سجود کاندي اختیار

"خوشال خان بابا"

اوس ورځو د همدې پیل کړې ولسي چارې دریم پړاو یا د ملي لویې جرګې جوړولوته چې بره مو ورته ګوته ونیوه!
په دې پړاو کې به د ولسوالیو د جرګو نه هره ولسوالي خپل یو استاځي یوې لویې ملي جرګې ته ورپیژني او په دې ډول به د کابل په کوم لوی جومات کې لویه ملي ولسي جرګه جوړیږي. د داسي ملي لویې جرګې د جوړولو ټول خرڅ به مالوم وي دا خرڅ به د ولسي بسپنې او ټولاني د لارې راټولیږي نه به دا خرڅ څوک له دولته غواړي نه د دولت له مخالفینونه، نه له امریکې یا ګاونډیانو نه او نه له ملګرو ملتونو یا د اسلامي ټولنې له دفتره.
همدا رنګه د دې جرګې د کار اجنډا او د کار موده به هم څرګنده وي دا جرګه د اساسي قانون د بدلون یا په پارلماني نظام باندې د ولسمشریز نظام د بدلولو د پاره نه راغوښتل کیږي او نه دا ملي لویه جرګه د کوم سیاسي بدلون د پاره جوړیږي بلکه دا جرګه به یواځې یو کار کوي او هغه به داوي چې دولت او طالبانو، دواړو ته به د افغانستان د ملي ګټو سره سم د یوې ملي سیاسي روغې د پاره د لارې نقشه (Road Map) ورکوي. او په خپلو پریکړو کې به له دواړو خواو نه د افغانستان د سولې او لوړو ملي ګټو د پاره په کلکه د روغې جوړې غوښتنه کوي.
خو ددې خبرې به هم ډیر زیات امکان وي چې د جرګې داسي پریکړې او غوښتنې دې دولت یا طالبان او یا هم دوی دواړه ونه مني او که داسي وشول نو پوښتنه داده چې بیا به دا لویه ملي جرګه څه کوي؟!
دا پوښتنه که څه هم یوه ډیره رشتیني ویره او په ځای پوښتنه ده ولې زما په انده بې ځوابه نه ده خو زه بې تر ځوابه وړاندې په لنډو د لویې ملي جرګې د جوړولو ګټو ته ګوته نیسم او وایم چې:
الف: ولس به د داسي یوې جرګې د جوړولو سره له خپلې غاړې نه یوه درنه تاریخي پړه پورته کړې وي او د افغانستان راتلونکی تاریخ به بیا هیڅکله افغان ولس په ډیرو کړکیچنو او بحراني حالاتو کې د ملي بې حسی په ګرمه پړ و نه ګڼي.
ب: اوس که د پورتنۍ پوښتنې ځواب ته راشو نو په ځواب کې به درته ووایم چې ولس به خپل ولسي زواک نه یواځې دا چې د داسي یوې جرګې په ښه راټول او منسجم کړی وي بلکه د دې زواک د استعمال او کارولو وړتیا به هم بې له کوم تریخ تاو او اخ وډبه پرته څرګندولی شي او هغه داسي چې د هرې هغې غاړې سره به بشپړ ټولنیز پریکون او سوشل بایکاټ social boycottاعلانیږي کومې غاړې چې ددوی خبره ونه منله.

ولس چې ددې کار د پاره کوم زواک او غوښ دریځ ته اړ دی هغه زواک او غوښ دریځ به ورته هم دا جرګه ورکړي، پاتې شوه ددې غوښ دریځ ولسي تشهیر او خپراوې نو په هغه لړ کې هم تر دودیزو رسنیو ډیر له خواله رسنیو نه کار اخستل کېدلی شي او د خواله رسنیو په زور خو د روان جنګ دولتي او نادولتي دواړه غاړې ډیرې ښې پوهیږي.

*****

نو افغان ولسه یاد ساتئ چې داسې یوه جرګه به نه یواځې دا چې بیرته تر لوېې کچې د پېښو او نوښتون زواک او واک له دولت او جنګیدونکو غاړو یا د دوی تر شا د ښکاره او پټو زواکونو د لاسه واخلي او ولس ته به یې وروسپاري بلکه په دې ډول به د کور خبره بیرته په خپل کور کې یو د بله سره وشي اوولس ته به د وړپېښې بوختې نه د وتلو لاره ولس د خپلې ولسي پوهې او عملي ولسي تجربې سره سمه ومومي.

بله خبره دا ده چې هر تاریخي ګواښ په خپل ځای ولسونو ته یو تاریخي چانس او فرصت هم ورکوي د ژوندو او نیمژواندو ولسونو تر منځ توپیر دادی چې ژوندي ولسونه هر ګواښ ته د یوه چانس او موقع په بڼه ګوري او نیمژواندي ولسونه یې د مرګ ګواښ ګڼي اوس راځئ دا پریکړه هم وکړو چې مونږه د چا خوی کوو د ژوندو ولسونو او که د نیمژواندو او مړو ولسونو؟

که د ژوندو ولسونو خوی کول غواړو نو سږ کال د ټولو افغان قومونو او سیاسي مخالفینو تر منځ، د سیمې د ورو او لویو ګاونډیو هیوادونو سره او په لویه کې د ټولې نړۍ سره د کلکې وروولی، ملګرتیا او ښه ګاونډیتوب کال کیدلی شي خو که خدای مه کړه داسې ونه وشول نو بیا به په افغانستان کې د ورور وژنې شته لړۍ لکه د شیطان خونړۍ داړې هر څوک یو هومره او په ټول وحشت وداړي او دې ته به ونه ګوري چې دا افغان دولت وي، که وسله وال طالبان او که دا د افغانستان ډیرکي پښتانه دي یا د هیواد لږکي نا پښتانه!!

او لا بده یې داده چې دا جنګ به بیا نه یواځې مونږه لو لپه کړي بلکه زمونږ د لویو او ورو ګاونډیانو او تر هغې اخوا به د ټولې نړۍ تر کوره نیغ په نیغه یا په ترسو ور ورسیږي او بیا به د ځمکې په دې وړه ټوکړه کې د جنګي هوسونو روانه لوبه په لویه کې د انسان ټول نوغي ته د مرګ او ورکیدلو یوه بدرنګه، بد نومې او ډیره کرغیرنه پېلامه شي.

"افغان سوله" یو خوب، یو خیال که یو ریښتنی واقعیت؟
Akbar_moh_akbar_afghan_sola_khobdai_ka_waqiyat.pdf

akbarmohd٥٤٣@gmail.com